# پاکه پاڼه

ماسټر عبدالکريم



پاڼې په څو څو قسمه دي، د قرآن پاڼه، د کتاب پاڼه، د ونې پاڼه، د ژوند پاڼه، د تماکو پاڼه او د چايو پاڼه. اګر چې په خپل خپل ځائے په هره پاڼه کښې څۀ صفت شته. ولې زما اميد دے چې د پښتون لوستونکي به هم په دې خبره کښې زما ملګري وي چې په ټولو پاڼو کښې د قرآن پاڼه ډېره پاکه او مبارکه پاڼه ده. خو ډېره موده کېږي چې سيلۍ زمونږ وطن ته يوه عجيبه غونډې پاڼه د چرته نه راوړې ده. دا وطن د دې پاڼې دومره خوښ شو چې خپل ټول قام قبيله ئې په کډه دې ملک ته راوستل. په لږو ورځو کښې ئې په ټول ملک قبضه وکړه او نورې ټولې پاڼې ئې شاته کړې. دا پاڼه د رنګه توره او د خويه ډېره ترخه ده. دې ته د چايو پاڼه وائي. دا نن سبا د هر چا د کور مېرمن ده او د هر چا تن وجود دے. خلق دې ته دومره محتاجه دے چې بې د دې د اجازت نه د کوره بهر ته نۀ شي وتلے. پخوا به خلقو وختي سحر سترګې په جماعت کښې غړولې او د هر څۀ نه به ئې اګاهو د قرآن پاڼې ښکلولې. خو نن سبا دغه ځائے د چايو پاڼې نيولے دے. اوس هم خلق وختي پاڅي خو سترګې په چايو غړوي او تر څو چې ئې دا ښکل کړې نۀ وي نو د کوره بهر ته وتے نۀ شي.

مشرانو به وئيل چې د پېرنګيانو لوئے لاس دے هر ځائے ته رسي خو د هغوي خوارانو په ورځو کښې د پېرنګيانو بادشاهي وه، هغوي خبر نۀ وو چې د دې نه پس به د چايو بادشاهي راځي او هغه به داسې بادشاهي وي چې سکهانو به هم داسې نۀ وي کړې. ځکه چې د سکهانو د ويرې خو خلقو تش بانګ نۀ شو وئيلے، نور مونځ اودس خو به ئې کولو. خو داسې ځيګرور مسلمانان هم شته چې د چايو د يوې پيالې د پاره د قرآن د ديرشو سيپارو نه دانګي او د پېرنګيانو لا د څۀ لاس دے، لاس خو د دې تورې پاڼې وايه چې جماعت ته رسي، حجره ترې لاندې ده، مدرسه ترې نۀ ده خلاصه، د کالج دغه حال دے. په دفترونو کښې دا پرته وي په عدالت کښې دا حکم کوي. لنډه او اوږده ئې دا ده چې کور په کور کلي په کلي او ښار په ښار د دې

نوبت غړېږي. د پېرنگيانو لاس به لا چرې سوات، دير، باجوړ، نواگۍ او تيراه ته رسي خو د چاپو لاس بيا چترال او کابل ته هم رسېدلے دے. د هندوستان په کلو کښې داسې هوښيار په ښاخو اوړي چې هغوي ته تراوسه پورې دا پته نۀ لگي چې په ملک د چا بادشاهي ده خو د چاپو قلنگ هغوي هم منلے دے. هندو دے کۀ مسلمان، خان دے کۀ غريب، نر دے کۀ ښځه، استاذ دے کۀ شاگرد، امام دے کۀ مقتدي، قاضي دے کۀ مفتي، حاکم دے کۀ محکوم، غرض دا چې د ټولو سترگې چاپو ته کوزې دي. اوس تاسو په خپل زړۀ کښې انصاف وکړئ چې لاس د چا لوئے دے.

کانگرس د پېرنگيانو حکم څو ورځې ونۀ مانۀ نو د هغوي نه ئې يو دوه خطا کړۀ. اخر په نيمه ئې ورسره صلح وکړه. خو زۀ به ئې هله منم چې دوي د چاپو حکم مات کړي. خبر دے مسلم ليگ دې هم ځان سره کړي. ځکه چې دوي هم هر چا ته بډې وهلې دي، وزارتونه دې هم ورسره شي، جنډې دې هم ورپسې برغي راواخلي او کۀ وسلې ته ئې ضرورت شو نو د خاکسارانو نه دې بېلچه قرض وغواړي. خو ولې يقين مې پرې ډېر نۀ راځي. داسې ځوان زۀ څوک نۀ وينم چې د چاپو حکم به مات کړي. دا د دې تورې پانې هغه لويه دبدبه ده چې هر څوک ترې امان غواړي.

يوائې د چاپو رعب نۀ دے چې په خلقو ناست دے. دې کښې ډېرې فائدې هم شته. کۀ صاحب ته ئې مخکښې کړې نو خان صاحب به لا خان بهادر شي. کۀ مقدمه گټل غواړې نو مجسټرېټ ته ئې وړاندې کړه کۀ په وکيل ئې وڅښې نو عمر له به دې هسې مقدمې کوي، کۀ تاڼېدار له ئې ورکړې نو ټوپک تماچه به درله درکړي. کۀ د تحصيل دار او پټواري د ستوني ئې تېره کړې نو د پردي زمکې انتقال به درپسې وخېژوي. کۀ د ماليې په سپاهي باندې ئې وڅښوې نو په هاړ پشکال کښې به د حوالات نه بچ شې. کۀ د استاذ حلق پرې لوند کړې نو انسپکټر څوک دے؟ چې تا فېل کړي. کۀ د انسپکټر مخکښې د چاپو لوښے وکړنگوې نو داسې مدرسې ته به دې بدل کړي چې ډاکخانه به هم ورسره وي. کۀ قاضي صاحب ته ئې وړاندې کړې نو شريعت به وگټې. کۀ گواه باندې دې ووهلې نو تر سېشن پورې به درله د دروغو گواهي کوي او کۀ د ووټ خاوند باندې دې نوش کړې نو کۀ صدارت غواړې هم کۀ جرگه کښې راځې نو ستا خوښه او کۀ ممبري غواړې نو په مخه به ډسټرکټ بورډ لا کونسل ته ځې او ښۀ خو د تاڼې خان خېل دې چې د چاپو په يوه پياله روغه ډله لاندې او باندې کړې.

چائې خلق په ډېرو نخرو څښي. څوک د گړې چائې څښي، څوک د مصرو، څوک خوږه څښي او څوک ترخه. څوک ئې نرمه څښي او څوک ټينگه. څوک ئې کور څښي او څوک ئې په دکان کښې څښي. دا د هر چا د زړۀ منلو خبره ده او دا ټولې ډېرې ښې چائې دي. خو په تېره تېره کومه چائې چې سړے په سټېشن کښې څښي د هغې ثاني نشته. دغه چائې خو نۀ گرمي پيدا کوي او نۀ يخني، دغه نۀ د گړې وي او نۀ د مصرو، نۀ يخه وي نۀ گرمه. غرض دا چې نۀ اوبۀ وي او نۀ چائې.

خو چاپو هم ډېر کبر راختے دے کۀ د چا د بېگا وي او د سبا ئې نۀ وي دا ترې نه خپله ماليه

غواړي. په يتيم دا زړۀ نۀ سېزي، په غريب د دې رحم نۀ راځي. مسافر سره دا رعايت نۀ کوي خو داسې اورو چې د ظلم کاسه تل نسکوره وي. ګورو به چې په چايو به کله اوړي. (لس ورځنے پښتون يکم جولائي ۱۹۳۸)